# د امريکا متحده آيالاتو کې د پوليسو سره څنګه تعامل وکړئ

د امريکا متحده آيالاتو کې د پوليسو رول په ټول هيواد کې د خلکو او ټولنو د مدني حقونو درناوی، محافظت، او پرځای کول دي. پوليس ځايي، آيالتي او فدرالي قوانين نافذوي. که تاسې بيړنی حالت لرئ، تاسې اړ يې د مرستې غوښتلو لپاره 9-1-1 ته تليفون وکړئ. د اطفايې او امبولانسونو په څير، ممکن پوليسو ستاسې د مرستې لپاره راشي.



تاسې همدارنګه ممکن په خپلو ټولنو کې په بيلابيل حالاتو کې د پوليسو سره مخ شئ لکه کله چې هغوی د ترافيکي قوانينو نه سرغړونو لپاره پړيوران ودروي.

که تاسې په عامه ځايونو کې د پوليسو سره مخ شئ يا د پړيورۍ په حال کې مو پوليس ودروي، نو د خوندي پاتې کيدو لپاره دلته ځينې لارښوونې دي.

1. آرام اوسئ او خپل احساسات کنټرول کړئ.
2. درناوی ولرئ. استدلال مه کوئ.
3. خپل لاسونه ښکاره او د خپلو جيبونو نه بهر ونيسئ.
4. مه ځغلئ يا ناڅاپي کوم شي ته مه لاس کوئ.
5. په يوه ځای کې ودريږئ او بې حرکت اوسئ.
6. که تاسې په موټر کې يې، په موټر کې پاتې شئ او خپل کمربند تړلی وساتئ.
7. پوليس افسر مه لمس کوئ يا ډير ورته مه نږدې کيږئ.
8. خپله آي.ډي يا د هويت کارت او د کوم چا د تليفون لمبر د ځان سره ولرئ چې مرسته درسره کولی شي، که اړتيا وي.
9. پوښتنه وکړئ چې آيا کولی شئ لاړ شئ او که هو نو په آرام سره لاړ شئ.









**په ياد ولرئ:** دا کومه مسله نده چې ووايي تاسې نه پوهيږئ. تاسې د ژباړونکي درلودو قانوني حق لرئ. که تاسې په قانون ماتولو تورن يې او نيول شوي يې، تاسې حق لرئ چې غلي پاتې شئ او د پوښتل کيدو نه مخکې د وکيل سره وغږيږئ. که تاسې د وکيل بندوبست نشئ کولی، نو محکمه ستاسې د استازيتوب کولو لپاره د وکيل لګښت ورکوي. که تاسې د پوليسو سره د تعامل په اړه پوښتنې لرئ، نو په ډاډه ډول يې د مرستې لپاره خپل د بيا ميشتيدنې دفتر کې د کارمندانو نه وپوښتئ.

دلته کارت دی چې تاسې يې د پوليسو سره تعامل کې د مرستې لپاره د ځان سره ګرځولی شئ.
دې کارت ته لاسرسي نه مخکې هرو مرو لومړی پوښتنه وکړئ او بيا اجازه واخلئ.

**REFUGEE-POLICE INTERACTION CARD**

I am a resettled refugee.

I am in the United States legally.

I speak ________________. I need an interpreter.

Please call ________________________________.

MEDICAL CONDITIONS:

**د مهاجر – پوليس د تعامل کارت**

زه بيا ميشت شوی مهاجر يم.

زه د امريکا متحده آيالاتو کې په قانوني ډول يم.

زه په ________________ ژبه غږيږم. زه يوه ژباړونکي ته اړتيا لرم.

مهرباني وکړئ ________________ ته تليفون وکړئ.

طبي وضعيت :

**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor ● Silver Spring, MD 20910
For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**